د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام





د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت او د افغانستان بانک ترمنځه د ګډو همکاريو، مالي راکړو ورکړو د پوهاوی او د مقطعي پانګې د انتقال په موخه تفاهم‌ليک لاسليک شو. د دې تفاهم ليک په پايلې کې به هر هغه اتحاديې ته چې د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام له‌خوا د هيواد په ټاکل شويو کليوالي سيمو کې جوړ شوې، يو بانکي حساب پرانستل شي، چې د ټولو بانکي حسابونو شمېر ۵۰۰۰ ته رسيږي او دا کار به د ۳٦ امريکايي ډالرو د انتقال لپاره د هيواد په کچه زمينه برابره کړي.

## په‌دې ګڼه کې:

- د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت او د افغانستان بانک ترمنځه د ګډو همکاريو، مالي راکړو ورکړو د پوهاوی او د مقطعي پانګې د انتقال په موخه تفاهم‌ليک لاسليک شو
- په کندهار کې مېشت کوچيان د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام تر پوښښ لاندې راغلل
- د ياسين نوې هيلې
- په باميان ولايت کې د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د روزنو لړۍ پيل شوې
- د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د مرکزي زون کارکوونکو ته د اسلامي کوچنې پورونو د ورکړې په اړه روزنه ورکړل شوه
- د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام وروستۍ لاسته‌راوړنې

## د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام:

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام - WEERDP د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له رهبرۍ لاندې په ۲۰۱۸ ز کال کې په‌دې موخه پر لار واچول شو، چې د هېواد په کليوالي سيمو کې د ښځو اقتصادي او ټولنيز ژوند پياوړی کړي. د پروګرام اتيا ٪۸۰ ګټه اخيستونکي ښځې تشکيلوي. پروګرام به د سپما ګروپونو، توليدي ګروپونو، د پور او سپما کليوالي اتحاديو او د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو له طريقه د کليوالي اقتصاد کچه لوړه کړي او د هېواد په کليوالي سيمو کې به زرګونه کليوالو ته د کار زمينه چمتو کړي.

## د مياشتې غوره کارمند



د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام د دې مياشتې غوره کارکوونکی ښاغلی محمد ظاهر پوپل ټاکل شوی‌دی، ښاغلی پوپل د کندهار ولايت په دامان ولسوالۍ کې د پروګرام لپاره د انسجام کارکوونکی دی.

ښاغلی پوپل د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د کندهار له پوهنتون څخه د لسانس تر کچې لوړې زده کړې لري. هغه د ورته پروژو د پياوړتيا او پرمختيا په برخو کې له ۸ کالو څخه ډېره تجربه لري. له کله راهيسې چې نوموړي د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام سره د کارکوونکي په توګه دنده خپله کړې، په ځنزيريز ډول يې د پروګرام ټول فعاليتونه په احسن ډول پخپل وخت ترسره کړي.

له همدې امله د پروګرام له‌خوا ښاغلی محمد ظاهر پوپل د هغه د ښه کارکرده‌ګۍ په نتيجه کې د سپټمبر د مياشتې لپاره د زحمت‌کښه کارکوونکي په توګه ونومول شو. په دې هيله چې په راتلونکي وختونو کې هم د پروګرام تر چتر لاندې د هېوادوالو لپاره په نه‌ستړي کېدونکي ښه کار وکړي.

# د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت او د افغانستان بانک ترمنځه د ګډو همکاريو، مالي راکړو ورکړو د پوهاوی او د مقطعي پانګې د انتقال په موخه تفاهم‌لیک لاسليک شو



د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د ۳٦میلونه امریکايي دالرو یو تفاهم لیک د مقطعي پانګې په نوم له افغانستان بانک سره د دې بانک په مقر کې لاسلیک کړ. پوهنمل مجيب الرحمن کریمي د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت وزير د دې تفاهم لیک په اړه وويل: «د دې تفاهم لیک په پایلې کې به هر هغه اتحادیې ته چې د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام له‌خوا د هیواد په ټاکل شویو کلیوالي سیمو کې جوړ شوي، یو بانکي حساب پرانستل شي، چې ټولو بانکي حسابونو شمېر یې ۵۰۰۰ ته رسیږي او دا کار به د ۳٦ امریکايي دالرو د انتقال لپاره د هېواد په کچه زمینه برابره کړي.»

واحدالله نوشیر د افغانستان سرپرست رییس په دې اړه داسې وویل: دا تفاهم لیک د دوه اړخیزو همکاريو پر بنسټ چې دواړو خواو ته یې ګټې رسیږي لاسلیکیږي او لویه ګټه یې د کلیوالو لپاره د مالي راکړو ورکړو Financial Literacy په برخه کې د هغوی د پوهاوي زیاتول دي.

د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام هیله لري، چې د دې تفاهم لیک په لاسلیک سره به وکولای شي خپلو موخو ته چې د هېواد په کلیوالي سیمو کې د ښځو اقتصادي او ټولنیز ژوند ته وده ورکول دي لاس رسی پیدا کړي او په دې توګه به د هېواد د اقتصادي پراختيا لپاره یو ګام واخلي.

د یادونې وړ ده، چې یاد پروګرام له دې وړاندې له کابل‌بانک او پښتني بانک سره تفاهم‌لیکونه لاسلیک کړي‌دي.

# په کندهار کې مېشت کوچیان د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام تر پوښښ لاندې راغلل

کوچیان په افغانستان کې هغه خلک دي، چې ګرځنده ژوند لري او له اړتیاو سره سم د ژوند له ټولو حقوقو څخه برخمن نه دي.

د همدې موضوع په تړاو د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام هوډ وکړ، چې د کندهار ولایت د ډنډ او دامان ولسواليو کوچیان د خپلو فعالیتونو تر پوښښ لاندې راولي.

د فعالیتونو په ترڅ کې لومړی د دې ولسواليو کوچیانو ته د سپما او تولیدي ګروپونو جوړو په پام کې نیولي شوي، چې د دې کار په نتیجه کې به دوی له یوې خوا مالي سرچینو ته د لاس رسی پیدا کړي او له بلې خوا به د دې سیمو کوچیانو ته د کاروبارونو فرصتونه برابر شي.

د دې فعالیتونو د پیل په مراسمو کې لومړی د پروګرام د موخو په اړه کوچیانو ته معلومات ورکړل شول او د پروګرام د ګټو په اړه له دوی سره بحث ترسره



شو چې د دوی د خوښې لامل وګرځید. د یادونې وړ ده چې په کندهار ولایت کې د دې پروګرام د فعالیتونو له پیل څخه تر دې دمه ټول ۴۱۵ سپما ګروپونه جوړ شوي دي.

# د یاسین نوې هیلې



د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام تر سیوري لاندې د هېواد په دوه ولایتونو ننګرهار او کندهار کې د کرونده ګرو لپاره د باټس د کرلو پروژه څه موده وړاندې پیل شوې وه، د پروژې د لاسته راوړنو په نتیجه کې د یو کرونده ګر کیسه دلته لولو: د باټس د کرلو لپاره په ننګرهار ولایت کې د پروګرام تر سیوري لاندې د پروژې د کارکوونکو له‌خوا ډېر مثبت او ګټور تبلیغات وشول، چې په اړه یې د پوهاوۍ بېشمیره ناستې او روزنیزه پروګرامونه ترسره کړل. ترڅو د ۲۵ لیواله کرونده ګرو له ډلې څخه په بالقوه توګه داسې کرونده ګر مشخص کړل شي، چې په مستقیمه توګه د پروژې ګټه اخیستونکي وي؛ چې یو له هغو څخه ښاغلی محمد یاسین دی. ښاغلی یاسین ۴۳ کاله عمر لري، کسب یې کرونده او د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د بر داتار کلي اوسیدونکی دی.

پلار یې ګل میر نومیږي او په کال ۱۹۷٦ ز کې د ننګرهار ولایت په کامې ولسوالۍ کې ځیږیدلی. د ۱۰۹۰ ز راهیسې له موسم سره سم پخپله ځکمه د مختلف النوع حبوباتو او محصولاتو کرنه کوي، چې له هغو څخه د کورنۍ اړتیاو د برابرولو ترڅنګ یو څه یې مارکیټ هم عرضه کوي. هغه محصولات او حبوبات چې د کال په مختلفو موسمونو کې ورڅخه د کروندې په توګه کار اخلي ګټه تر ډېره بریده مروجه حبوبات او محصولات دي چې له غنمو، جوارو او نورو سبزیجاتو څخه عبارت دي. هغه وایي: زما د کورنۍ لپاره عایداتي سرچینه یواځې همدا کرونده ده. د باټس د ترویج لپاره د پروژې کارکوونکي کامې ولسوالۍ ته له داخلیدو سره سم یې د پروژې د پوهاوۍ په موخه له خلکو سره ناستې وکړې

او د دې بوټي د کروندې او ګټې اخیستنې په اړه په مختلفو برخو کې د خلکو روزنه وکړه، خلکو ته یې ګټې بیان کړلې او د تبلیغاتو له میتود سره سم یې کلیوالو ته ورزده کړل چې د باټس کرنه څنګه کیږي، حاصل یې څنګه اخیستل او کوم ډول تولیدات یې مارکیټ ته وړاندې کیږي. کله چې په کامې ولسوالۍ کې د پروژې د کاري ټیم له‌خوا روزنې په لار واچول شوې، ښاغلي محمد یاسین په دې روزنو کې په ډېر شوق برخه واخیسته. لکه څنګه چې پخپله وایي: د باټس د پروژې له کاري ټیم څخه مننه کوم، چې له وخت سره سم یې د کامې ولسوالۍ کرونده ګرو ته د باټس د کروندې په اړه روزنې ورکړلې. ما په دې روزنو کې زده کړل چې د باټس کرل څنګه کیږي، په میاشت یا کال کې څو ځله اوبه خور ته اړتیا لري، په څه ډول یې حاصل اخیستل کیږي او د تولیداتو په موخه یې کوم اومه مواد بازار ته وړاندې کیږي. هغه زیاته کړه د باټس دکروندې، د حاصلاتو د ترلاسه کولو په میتود باندې د پوهېدو او د ولسوالۍ په کچه د دې تولیداتو د ډېرې غوښتنې پر بنسټ اوس مې باټسونو نیالګي د خپل کور په شا و خوا سیمو کې هم کرلي او همدا راز له خپلو خپلوانو او نورو کرونده ګرو څخه مې هم غوښتنه کړې، چې له دې عایداتي بوټي څخه ګټه پورته کړي. د روزنو له ترلاسه کولو وروسته ښاغلي یاسین خپله یو جریب ځمکه د باټس د کروندې لپاره ځانګړې کړې، په داسې حال کې چې هغه په کالنۍ بڼه له ۲۵،۰۰۰،۰۰ څخه تر ۳۵،۰۰۰،۰۰ پورې نور کرنیز حاصلات پخپله ځمکه لرل. هغه وایي: د باټس لرګی یو ډېر کارېدونکی لرګی دی چې په ډېرې چټکۍ سره په ننګرهار ولایت کې د نورو لرګیو بدیل ګرځي. له بلې خوا په ننګرهار ولایت کې د باټس د لرګیو کرکیله هم ډېره مروجه نه ده، ځکه نو زه غواړم چې په آینده کې نوره ځمکه هم د باټس د کروندې لپاره جلا کړم.

همدا راز محمد یاسین د باټس د پروژې د تشهیر لپاره ډېرې مرستې کړې او په تکراري بڼه یې خلک د دې بوټي له ګټو څخه خبر کړي، هغه د پروژې د تشهیر لپاره نه یواځې چې د کلي په کچه دا کار کړی، بلکې د کامې ولسوالۍ په نورو کلیو او آن د لیرو او ګوشتې په ولسوالیو کې یې هم د پروګرام لپاره تبلیغات کړي.

د ښاغلي محمد یاسین او نورو کرونده ګرو په مرسته اوس د باټس پروژه په خورا ښه بڼه په ننګرهار ولایت کې مشهوره او د دې بوټي کرل رواج ګرځېدلي. چې د دې بوټي د کرلو په ترویج سره به ننګرهار ولایت ته په ځانګړې توګه او په ټول هیواد کې په عمومي توګه د باټس د لرګیو او تولیداتو واردات له بهر څخه په راتلونکو وختونو کې راټیټ او بیا له منځه یوړل شي.

## په باميان ولايت کې د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د روزنو لړۍ پيل شوې



دا روزنيزه لړۍ د روان کال د وري له ۲۵ نېټې راهيسې د باميان ولايت په پنځو ولسواليو کې پيل شوې. د مرکزي باميان د اژدر او سرخ قل سيمو نږدې ۳۰۰ سيما ګروپونه هغه لومړني ګروپونه دي، چې له دې روزنو څخه يې ګټه پورته کړې.

کې د اسلامي بانکدارۍ، په سيما ګروپونو کې غړيتوب ترلاسه کول او همدا راز په سيما ګروپونو کې د کتابونو د خوندي ساتنې او کارونې په اړه روزنې ترلاسه کړې.

د يادولو ده چې په باميان ولايت کې د روزنو دا لړۍ وروسته له پيل شوه، کله چې د پروګرام د مرکزي زون مسوول ښاغلي شمس الاسلام ياسر باميان ولايت ته رسمي سفر وکړ. هغه د وري د مياشتې په لومړيو کې د پروګرام له فعاليتونو او لاسته راوړنو څخه د څارنې په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ او د دې ولايت له يو شمېر ولسواليو څخه يې د ليدنو په ترځ کې د پروګرام له سيمه کارکوونکو او ګټه اخيستونکو سره وکتل او د هغوی د ستونزو لپاره يې مناسبې حل لارې تجويز کړل.

هېره دې نه وي، چې د پروګرام له پيل څخه تر دې دمه په باميان ولايت کې ۸۰۰ سيما ګروپونه او همدا راز د پور او سيما ۳۰ اتحاديې جوړې شوې دي.

## د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د مرکزي زون کارکوونکو ته د اسلامي کوچني پورونو د ورکړې په اړه روزنه ورکړل شوه

د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام ۳۱ هغه نويو ګمارل شوي قريوي اسانچارو ته چې په بګرامي، استالف او څهارآسياب ولسواليو کې يې خپلې دندې پيل کړيدي، د اسلامي کوچني پورونو د ورکړې په اړه دوه ورځنۍ روزنه ورکړل شوه. د دې روزنې ۲۰تنه ګډون‌کوونکي مېرمنې او ۱۱تنه ګډون‌کوونکي نارينه وو.





په دې روزنو کې نويو ګمارل شويو کليوالي اسانچارو ته د کوچنيو اسلامي پورونو، د سيما ګروپونو د تشکيل او ثبت، په منظم ډول د غونډو د جوړولو، د کتابونو د خوندي ساتنې، د ټولنې د خوځښت/ تحرک او د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام په اړه معلومات برخوالو ته ورکړل شول. د يادونې وړ ده چې د اړيکو جوړولو او پياوړې کولو له پلوه د لومړني پړاو په توګه کليوال اسانچاري هغه خلک دي، چې د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا پروګرام او د کليوالو ترمنځه د ټولنيزه کارکوونکو په مرسته د ټولنې د خوځښت او تحرک په موخه کار او فعاليت کوي.

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام وروستۍ لاسته‌راوړنې





د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام چې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت تر مستقیمې رهبرۍ لاندې پلي کیږي، موخه یې په کلیوالي سیمو کې د بېخي بې‌وزله مېرمنو د اقتصادي او ټولنیز ژوند کچه لوړول دي.

دا پروګرام چې د ۵ کالونو لپاره د هېواد د ۳۴ ولایتونو په ۷۶ ولسوالیو کې پلي کیږي، تر دې دمه یې د هېواد د ۱۱ ولایتونو په ۳۷ولسوالیو کې عملاً کار پیل کړی دی.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام تر دې دمه ۲۶۰ کلیوالي شوراګانې CDCs تر خپل پوښښ لاندې راوستي او ۲۲۵۶ د سپما ګروپونه یې جوړ کړي‌دي، چې د دې ګروپونو له جملې څخه ۱۸۵۳ یې د مېرمنو ګروپونه دی.

د ۲۲۵۶ سپما ګروپونو له طریقه ۱۰ مېلیونه افغانۍ سپما شوې‌ده، چې ۸ مېلیونه افغانۍ د مېرمنو ګروپونو په وسیله سپما شوې‌دي.

تر دې دمه د ګروپونو له طریقه ۴۵۱۶ پوروونه ۴۱۰۳ پور اخیستونکیو ته اجرا شوې‌دي، چې ۸۴٪ یې د مېرمنو له خوا وې، چې د خپلو اقتصادي فعالیتونو په موخه یې دا پوروونه ترلاسه کړي‌دي.

پروګرام تر له نوي کابل بانک، پښتني بانک او د افغانستان بانک سره هوکړه‌لیکونه لاسلیک کړي‌دي، چې موخه یې د مقطعې پانګې انتقال، د ګروپونو د غړیو مالي علم لوړول، او د مالي په برخه کې اسانتیاوې رامنځته‌کول دي.

د پروګرام تر پوښښ لاندې سیمو کې تر ، له ۱۹۴ سپماګروپونو څخه ۲۴ د پور او سپما کلیوالي اتحادیې رامنځ‌ته شوي‌دي، چې بانکي حسابونه یې هم په پښتني بانک او نوي کابل بانک کې پرانیستل شوي‌دي، چې د پور او سپما له دې اتحادیو څخه ۱۰ اتحادیې د پخته‌ګۍ مرحلې ته رسېدلي دي، چې ډېر ژر به ورته یو مېلیون او دېرش زره افغانۍ تزریق شي.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام بله لاسته راوړنه په وروستیو څو میاشتو کې د هېواد په اووه زونونو کې د نندارتونونو ترسره کېدل دي، چې د هېواد له ۳۴ ولایتونو څخه د دې پروګرام ګټه اخیستونکیو پکې ګډون کړیوو.

د یادولو وړ ده، چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام په پام کې لري، چې د هېواد په اووه زونونو کې د مېرمنو له‌پاره ځانګړي بازارونه رامنځ‌ته کړي، چې لومړنی ډیزاین او طرح یې تر کار لاندې دي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام تمه لري، چې د پروګرام هغه هدف چې په کلیوالي سیمو کې د بې‌وزله مېرمنو اقتصادي او ټولنیزه کچه لوړول دي، لاسته راوړي او د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې رغنده رول ولري.

## له موږ سره اړیکه:


د نیله باغ سړک، دارالامان واټ، کابل--افغانستان

www.weerdp-mrrd.gov.af

www.facebook.com/weerdpofficial

@weerdpofficial

Abdulwafi.nayebzai@mrrd.gov.af

+93 (0) 788 911 211


